# د بیت الله شریف فضیلتونه

## 15-June-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پہ 15 جون کال 2023ء د پاکستان پہ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د بيت اللّٰه شريف فضيلتونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د کعبے شريفې په برکت سره شِفَا نصيب کيږي
- د کعبے شريفې د دروازے د کُنجئ برکت
- د کعبے شريفې په باره کښې خوندور معلومات
- د ظالِم خاوند لاس شل شو

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ — وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ — وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د **الله** پاک د خوږ آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مسلمان چې ترڅو پورې په ما باندې دُرُود شريف لولي، فرښتے په هغه باندې مسلسل رحمتونه ليږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زيات.[1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّۃُ الۡحَسَنَۃُ تُدۡخِلُ صَاحِبَهَا الۡجَنَّۃَ ښه نيت بنده جنت ته داخلوي (2)

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښو ښو نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي راځئ چې د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا

[1]...ابن ماجه، کِتَابُ اِقَامَةِ الصَّلَاة، بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ، صفحه:152، حديث:907۔
[2]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

د پاره به ټول بیان اورم ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به په ادب کښينم ❁ ښه په توجه به بيان اورم ❁ څه چې اورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ادب په برکت ورته ايمان نصيب شو

د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه په سوونو کاله مخکښې خبره ده، تُبَّع حِمْيَرِی کوم چې د خپل وخت عظيم بادشاه وو، دا هغه خوش قِسمته دے چې کله ده د خپلو عالمانو نه د سرورِ انبيا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر خير واوريدو نو په هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ئې ايمان هم راوړو او د حضورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم ئې يو خط هم اوليکو، کوم چې نسل در نسل حضرت اَيُّوب انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته را اورسيدو او هغوئي د سرکارِ اعظم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې وړاندې کړو [1] رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تُبَّع حِمْيَرِی تعريف هم اوفرمائيلو او د هغوئي په باره کښې ئې د بد وئيلو نه منع هم اوفرمائيله [2]

خير! تُبَّع حِمْيَرِی د ټولې دنيا بادشاه وو، د هغه د الله په رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د ايمان راوړو نه مخکښې خبره ده، يوه ورځ هغه سوچ اوکړو چې د زمکې سيل کول پکار دي او کتل پکار دي چې خلق په څه حالت کښې دي، دا د شاهي

---

1... تفسير صراط الجنان، پاره:25، سورهٔ دخان، زيرِ آيت:37، جلد:9، صفحه:196 بتغير قليل۔
2... معجمِ کبير، جلد:3، صفحه:539، حديث:5881۔

جلال سره په سفر باندې روان شو، د بادشاه لښکر چې به کوم ښار ته رسیدو، د هغه ښار خلق به راځکښې کیدل او هر کلے به ئې کولو، د بادشاه احترام به ئې کولو، بادشاه سلامت به د هر ښار نه عالمان د ځان سره کول او وړاندې به تللو، دغسې تقریباً یو لاکھ عالمان د بادشاه سلامت سره شول بادشاه سلامت په سفر کولو کولو مکّے مکرمې ته اورسیدو د دې ځائے معامله د نورو ښارونو نه بدله وه، تُبَّعِ حِمْیَرِی چې به کوم ښار ته رسیدلو، خلق به راځکښې کیدل او بادشاه ته به ئې هرکلے وئیلو خو د مکّے مکرمې خلقو نه خو بادشاه ته هرکلے اووئیلو، نه ئې د هغه عزت او احترام اوکړو دا ئې چې اولیدل نو بادشاه له ډیره غصه ورغله، هغه خپل وزیر را اوبللو او د خپلې غصې اظهار ئې اوکړو نو وزیر اووئیل: بادشاه سلامته! په مکه مکرمه کښې یو کور دے، کوم ته چې دا خلق بیتُ اللّٰه وائي، دا خلق بس د دغه کور عزت کوي دا ئې چې واوریدل نو بادشاه نور هم غصه شو، بادشاه حکم اوکړو چې دا کور دې وران کړے شي او د دې ځائے خلق دې قتل کړے شي (مَعَاذَاللّٰه!)

بادشاه چې څنګه دا حکم اوکړو، په هُم هغه ساعت ئې په سر باندې سخت درد شو، ورسره ئې د سترګو، پوزې او خُلې نه داسې سخا [بد بودارې] اوبه روانې شوې چې څوک به د هغه په خوا کښې د یو سیکنډ د پاره هم نشو حصاریدے طبیبانو ته د بادشاه د بیمارئ د عِلاج حکم اوشو، حکیمانو، طبیبانو په نمبر نمبر کوشش شروع کړو، د بادشاه په مرض باندې پوهیدل او د هغه عِلاج کول خو لرې خبره ده، مګر [د بد بوئې په وجه هیڅ] څوک هم د بادشاه په خوا کښې هډو حصاریدے نشو آخر ټولو طبیبانو دا اووئیل چې مونږ د زمکې د بیمارو علاج خو کوو مګر د آسماني مرض علاج زمونږ سره نشته.

بادشاه ډېر په تڪليف ڪښې وو، هيڅ عِلاج ئې نه کيدلو، په دې حالت ڪښې شپه شوه، يو عالِم چې نوم ئې بِليَان وو، هغه وزير ته اووئيل: زه د بادشاه سره د راز يوه خبره کول غواړم، که چرې بادشاه زما سره يواځې خبره اوکړي نو زه د هغه د علاج د پاره تيار يم بادشاه په خپل ځان وو، ځکه ئې فوراً تنهائي اختيار کړه، هغه عالِم صاحب په تنهائيئ کښې د بادشاه خوا له تشريف راوړو، او پوښتنه ئې ترينه اوکړه چې: اے بادشاه! آيا تا دې بيتُ الله ته د نقصان رسولو اراده کړې وه؟ بادشاه اووئيل: آو! هم داسې ده عالم صاحب اووئيل: تا ته دا بيماري په هُم دې سبب لګيدلې ده، د دې کور مالک د زړه په خبرو هُم ښه پوهيږي، تاسو دا اراده ختمه کړئ! د دې کور (يعنې د کعبے شريفې) او د دې د خادمانو سره د نيکئ اراده اوکړئ! که چرې تاسو داسې اوکړئ نو تاسو ته به شفا نصيب شي، بادشاه خپله اراده بدله کړه او د کعبے شريفې د عزت کولو او د مکّے والؤ سره ئې د نيکئ او ښيګړې اراده اوکړه، بادشاه چې څنګه دا اراده اوکړه نو په هم هغه ساعت ورته شفا نصيب شوه

هغه وخت تُبَّع حِمْيَرِی د کعبے په رَبّ باندې ايمان راوړو او په کعبه شريفه باندې ئې 7 قيمتي غلافونه اوغوړول، تُبَّع حِمْيَرِی وړومبے ګس وو چا چې په خانه کعبه باندې غِلاف اوغوړولو (1)

کعبے کی رونق کعبے کا منظر، اللهُ اَکْبَر! اللهُ اَکْبَر!
دیکھوں تو دیکھے جاؤں برابر، اللهُ اَکْبَر! اللهُ اَکْبَر!
دیکھا صَفَا بھی، مروہ بھی دیکھا تیرے کرم کا جلوہ بھی دیکھا

---

1 ... تاریخِ مدینہ دمشق، جلد:11، صفحہ:10-12 ملتقطاً وبتغیر۔

دیکھا رواں اِک سروں کا سمندر، اللّٰہُ اَکْبَر! اللّٰہُ اَکْبَر!

د دې واقعے نه زده کولو دپاره مونږ ته دوه خبرې ملاؤ شوې:

## د کعبے شریفې د بے ادبئ سپیره والے

وړومبئ خبره دا چې د کعبے شریفې بے ادبي په هلاکت کښې د اخته کیدلو سبب دے. اوګورئ تُبَّع حِمْیَرِی لا خانه کعبے ته نقصان رسولے نه وو صرف اراده ئې کړې وه چې د خدائے قهر پرې نازل شو. هُم دغسې د اَبرَهه نومې بادشاه واقعه هُم مشهوره ده، دې بد بدخته خانه کعبے ته د نقصان رسولو دپاره په هاتیانو سور فوځ راوستے وو خو هغه ته دا نه وه معلومه چې د دې کور مالِک (یعني **الله** پاک) د لویو قدرتونو خاوند دے، **الله** پاک د هغه تکبر په خاورو کښې ګډ کړو او د وړو وړو مرغو (یعني ابابیلو) په ذریعه ئې د هغه په هاتیانو سور فوځ [سره د هاتیانو] تباه و برباد کړو. **الله** پاک په قرآنِ کښې فرمائي:

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿۱﴾ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ﴿۲﴾ وَّ اَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ﴿۳﴾ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۴﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ﴿۵﴾ (پارہ:30،سورۂ فیل:51)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آیا تاسو اُونه لیدل چې ستاسو **رب** د هُغه هاتي والؤ څه حال اوکړو؟ (۱) آیا هغه د هغوئي مکر و فریب په تباهئ کښې وانچولو (۲) او په هغوئي ئې د مرغو فوځونه ور اولیږل (۳) کومو به چې هغوئي د کنکر په کانړو ویشتل (٤) نو هغوئي ئې د ښاروو د خوړلو شوو بوسو په شان کړل (٥)

## دوه عبرتناکې واقعې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! **الله** پاک دې مونږ ټولو ته بیا بیا د حج او عمرې سَعَادت رانصیب کړي، یاد ساتئ! ګناه خو هر ځائې کښې ګناه وي، البته په حرمِ پاک کښې، خصوصاً د کعبې شریفې په وړاندې ګناه کول صرف ګناه نه ده بلکه د کعبې شریفې بےادبي هم ده، ځکه په حرمِ پاک کښې د ګناه نه خصُوصاً ځان ساتل لازمی دي (1): د جاهلیت د زمانې خبره ده، یو کس چې د هغه نوم اِسَاف وو،هغه او نائِلَه نومې یوې زنانه په عینِ کعبه شریفه کښې دننه بدکاری اوکړه، آه! هغو بدبختو د کعبې شریفې د حُرمت هم اِحساس اونکړو، **اُمُّ الْمُؤْمِنِین** سیّده عائشه صِدِّیقه رضی الله عنها فرمائي: چې کله هغوئي دواړو د کعبې شریفې داسې بےادبي اوکړه نو په هغوئي د **الله** پاک غضب نازل شو او هغوئي دواړه په هُم هغه ساعت د ګټې شول[1] (2): او د جاهلیت د زمانې یوه بله واقعه ده: یوې زنانه او سړي طواف کولو هغوئي په ګنده نِیّت خپل بدن د یو بل سره اولګوو، په هغوئي هم هغه ساعت قهر نازل شو او د هغوئي بدنونه په خپل مینځ کښې په یو بل پورې اُونښتل، بیا هغوئي ته د خلقو نه حیا ورغله او د هغه ځائې نه اوتښتیدل، په لاره کښې ئې د یو بوډا سړي سره مُلاقات اوشو، هغه بوډا چې د دوئي د ګنده حرکت نه خبر شو نو ورته ئې اُووئیل: چې د کوم ځائې نه راتښتیدلي ئې هم هلته واپس لاړ شئ! په رښتیني زړه توبه اوکړئ! تاسو ته به د دې عذاب نه نجات میلاو شي چنانچه هغوئي دواړه واپس د کعبې شریفې خوا ته راغلل، په رښتیني زړه ئې توبه اوویستله او پخه وعده ئې اوکړه چې بیا به کله هُم داسې حرکت نه کوو، د هغوئي توبه قبوله شوه او **الله** پاک

[1]...سیرۃ ابنِ اسحاق، الجزء الاول، صفحہ:24۔

ورته د عذاب نه نجات ورکړو (یعني د دواړو بدنونه جُدا جُدا شول)(1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو اولیده چې د کعبے شریفې په خوا کښې ګناه کول څومره د هلاکت سبب دے. په دې وجه د ګناه نه خو هر ځائے کښې ځان ساتل لازمي دي، البته که چا ته د حج یا عُمرے شرف میلاو شي او په حرم شریف کښې حاضر وي نو هلته د ګناهونو نه ځان ساتل زیات ضروري دي.

شرف مجھ کو ہر سال حج کا خُدا دے | مدینہ بھی ہر بار مولیٰ دکھا دے
شرف دیدِ کعبہ کا دیدے اِلٰہی! | مجھے سبز گنبد کا جلوہ دکھا دے
عِبادت میں لگ جائے دِل یااِلٰہی! | مرے دِل سے غفلت کا پردہ ہٹا دے
سِیَہ ہے مرا سارا اَعمال نامہ | اِلٰہی! سیاہی تو اس کی مٹا دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د کعبے شریفې په برکت شفا ملاویږي

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ واوریدل چې! د کعبے شریفې څومره عظیم برکتونه دي، تُبَّع حِمْيَرِی صرف د کعبے شریفې د بے ادبۍ اراده کړې وه چې د خدائے قهر پرې نازل شو، بیا چې کله هغه د کعبے شریفې د عزت اراده اوکړه نو د رحمان او رحیم رَبّ عَزَّ وَ جَلَّ رحمت په جوش کښې راغلے او تُبَّع حِمْيَرِی ته په هُم هغه ساعت د دردناک مرض نه شفا نصیب شوه

1...اخبارِ مکۃ للازرقی، باب ماجاء فی فتح الکعبۃ، جلد:1، صفحہ:178۔

علماء کرام فرمائي چې د کعبے شریفې د برکاتو نه یو دا هُم دے چې مَرغۍ د کعبے شریفې د پاسه نه کښیني او د دې د پاسه نه تیریږي خو کومه مرغۍ چې بیماره شي هغه د کعبے په چهت کښیني یا پرې د پاسه تیره شي د دې په برکت ورته شِفا میلاو شي [1]

## د کعبے د کُنجۍ برکت

په شِفاءُ الغِرام کښې دي: د مکّے والؤ د ډیرو کلونو پورې دا دستور وو چې کوم ماشوم به پیدائشي چاړا وو نو هغه به ئې کعبے شریفې ته راوړو او د خانه کعبے کُنجي به ئې د هغه په خُله کښې کیښودله، د هغې په برکت به هغه ماشوم خبرې شروع کړې. [2]

## وَبا څنګه ختمه شوه...؟

علامه احمد بن علي فاسي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه لیکي: د 433 سِنِ هجري خبره ده، د کعبے شریفې یو ګُوَټ رُکنِ یَماني نه د کوټې همره یوه ټُکړه ماته شوه، د خلقو هغې ته توجُه اونشوه، لِـهذا د هغې مرمت هم اونشو، د کانړې د یوې ورې شان ټُکړے د خانه کعبے نه د جُدا کیدو داسې سپیره والے اوشو چې په مکه مکرمه کښې وَبا خوره شوه، هره ورځ خلق مړه کیدل شروع شول، څوک چې به هم په دې وبا کښې اخته کیدو په درې ورځو کښې دننه دننه به مړ کیدو، آخر دا چې د خُراسان اوسیدونکي یو نیک بنده په خوب کښې رهنمائي اوکړے شوه، نو هغه ټُکړه په تلاش کولو سره پیدا کړے شوه او واپس د کعبے شریفې په دیوال کښې اولګولے شوه نو وَبا ختمه شوه. [3]

---

1... تفسیر خزائن العرفان، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، زیرِ آیت:97، صفحہ:126۔

2... شفاء الغرام باخبار البلد الحرام، الباب الثالث عشر، جلد:1، صفحہ:353 خلاصۃً۔

3... شفاء الغرام باخبار البلد الحرام، الباب الثالث عشر، جلد:1، صفحہ:352 خلاصۃً۔

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته هم د کعبے شريفې د عزت کولو، په ادب او احترام سره کعبے شريفې ته د کتلو، د دې نه د برکتونو حاصلولو، د کعبے غِلاف اوبابِ کعبه په محبت او عقيدت سره د ښکلولو او هغې ته د ورغاړې وتلو سره د ډيرو ډيرو دعاګانو کولو توفيق عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تُو مکہ دِکھا دے، مدینہ دکھا دے | مرے دِل میں مکہ مدینہ بسا دے
شرف دیدِ کعبہ کا دیدے اِلٰہی! | مجھے سبز گنبد کا جلوہ دکھا دے
تُو جسمانی بیماریاں دُور فرما | دے روحانی امراض سے بھی شفا دے

## کعبه شريفه څو ځل جوړه کړے شوه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د کعبے شريفې تاريخ ډير زوړ دے کعبه شريفه 10 ځله جوړه کړے شوې ده: کعبه شريفه د ټولو نه اول فرښتو جوړه کړه بيا حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام جوړه کړه.

## د کعبے شريفې تعمير د 5 قِسمه ګټو نه شوے دے

په روايتونو کښې دي: کله چې د الله پاک نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جنت نه دې دنيا ته تشريف راوړو نو هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام ته دلته تنهائي او وحشت محسوس شو، چنانچه هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې فرياد اوکړو، پس الله پاک هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام ته د کعبے شريفې د تعمير کولو حُکم ورکړو. (1)

په روايتونو کښې دي: کله چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام کعبه شريفه جوړوله نو

[1]... تفسیرِ کبیر، پارہ:4، سورۂ آلِ عمران، زیرِ آیت:96، جلد:3، صفحہ:296۔

هغه وخت فرښتو د پينځه غرونو نه ګټې راوړلې او د هغوئي په خِدمت کښې ئې وړاندې کړې، د هغې نه کعبه شريفه جوړه کړے شوه، د هغه 5 غرونو نومونه دا دي: (1): کوهِ لبنان (2): کوهِ طُور (3): کوهِ زيتا (4): کوهِ جُودي (په کوم باندې چې د حضرت نُوح عَلَيهِ السَّلَام کشتئ اُودريدلې وه) (5): کوهِ حِرا کوم چې په مکه مکرمه کښې دے (1)

| | |
|---|---|
| حج کا شَرَف ہو پھر عطا یارَبِّ مصطفےٰ! | میٹھا مدینہ پھر دکھا یارَبِّ مصطفےٰ! |
| دیدے طوافِ خانۂ کعبہ کا پھر شَرَف | فرما یہ پورا مُدّعا یا ربِّ مصطفےٰ! |
| رُخ سوئے کعبہ ہاتھ میں زَم زَم کا جام ہو | پی کر میں پھر کروں دُعا یارَبِّ مصطفےٰ!(2) |

## د کعبے شريفې په باره کښې خوندور معلومات

خوږو او مُحترمو اسلامي ورو نـو! کعبه شريفه د الله پاک کور دے، د دې ډېره ښکلے شان دے. راځئ چې د دې په باره کښې زړه راښکونکي معلومات واورو: ❀علمائے کرام فرمائي: د کعبے شريفې عمارت په مَکعَب يعنې په مربع شکل کښې دے، ځکه کعبے شريفې ته کعبه (يعنې د څلورو ګوټونو والا کور) وئيلے شي ❀د لفظ کعبه يوه معنیٰ: اوچته او راپورته هم ده، پخوا زمانه کښې به خلقو د کعبے شريفې د عزت او حرمت په وجه خپل کورونه ګول جوړول او د کعبے شريفې نه به ئې نه اوچتول، ځکه چې هم دا مکان مبارک د خوا و شا ټولو کورونو نه اوچت وو، ځکه دې ته کعبه

---

1...تحفۂ معراج النبی، صفحہ:366۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:129 ملتقطاً۔

اووئیلے شوه [1] ❁ په کعبه شریفه باندې به مخکښې غِلاف نه وو، د ټولو نه مخکښې تُبَّع حِمْیَرِی په کعبه شریفه باندې غِلاف اوغوړولو، د هغې نه پس په کعبه شریفه باندې غِلاف غوړول معمول جوړ شو ❁ د کعبے شریفې د غِلاف رنګ د شروع نه تور نه وو، په مختلفو زمانو کښې پرې د نورو رنګونو غلافونه هم غوړولے شوي دي، البته اوس پرې د ډیرې مودې نه د تور رنګ غِلاف غوړولے شي سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې ډیر ښکلے حکمت بیان کړے دے هغوئي فرمائي:

سر سبزِ وَصل یہ ہے،سِیَہ پَوش ہجر وہ | چمکی دو پٹّوں سے جو حالت جِگر کی ہے[2]

**وضاحت**: د ګنبدِ حضریٰ شین رنګ د یو ځائے کیدو نښه ده او د کعبے معظمې تور رنګ د جدائې نښه ده دا رنګونه د زړه خبره ظاهروي کوم [رنګ] چې د نُور والا آقا، د مدینے د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم سره میلاو دے هغه د خوشحالئ نه شین دے او کوم چې لرې دے هغه د جدائې په غم کښې تورې جامې اچولې دي.

❁ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نیکه مبارک حضرت عبدُ المُطَّلِب کعبه شریفه یو ځل په سرو زرو ښکلې کړې وه [یعنې د سرو زرو نقش و نګار پرې کړے وو] [3] ❁ هم دغه شان ولید بن عبد المَلِک په خپل حکومت کښې د سرو زرو 36 زره اشرفئ راولیږلې او خپل ګورنر ته ئې حکم اوکړو چې په دې رقم باندې دې د کعبے شریفې په دیوالونو باندې د سرو زرو کار اوکړے شي، د سرو زرو ناوه دې جوړه کړے شي

---

1...تحفۂ معراج النبی، صفحہ:400۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:223۔
3...السیرۃ الحلبیۃ، باب بنیان قریش الکعبۃ شرفھا اللہ تعالیٰ، جلد:1، صفحہ:251۔

او په ستَنو دې هم سره زر اُوخیژولے شي [یعني د سرو زرو استر دې ورکړے شي] [1] ❁ دغه شان امین بن هارون الرشید په خپل حکومت کښې د کعبے شریفې په دروازه باندې د سرو زرو اَستر اولګولو، په هغې کښې ئې د سرو زرو میخونه اولګول [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د کعبے شریفې یو څو خصوصیات

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! کعبه شریفه ډیر بابرکته مقام دے، د دې ډیر ډیر خصوصیات دي: الله پاک ارشاد فرمائي:

وَ اِذْ جَعَلْنَا الْبَیْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ (پاره:1، سورۂبقره:125)

[مَفهُوم]ترجمۂکنزُالعِرفان: او (یاد کړه) چې کله مونږه دا کور د خلقو د پاره مرجع او امان جوړ کړو.

په دې آیتِ کریمه کښې د کعبے شریفې دوه خصوصیات بیان کړے شوي دي: (1): کعبه شریفې د خلقو دپاره مرجع (یعني د راګرځیدو مقام) دے (2) : کعبه شریفه د امن ځائے دے.

## (1): کعبې شریفې ته زړونه مائِل دي

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکیم الاُمَّت مفتی احمد یار خان نعیمی رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه لیکي: ❁ دې مقام ته د ټول جهان خلق راجمع کیږي ❁ څوک چې یو ځل راشي بیا بیا راتلل غواړي، د لارې د مصیبتونو پرواه نه کوي ❁ څوک چې دُنیاوی مشاغِلو نه فارغه شي او د عُمر په

1 ...السیرۃالحلبیۃ،باب بنیان قریش الکعبۃ شرفھااللہ تعالٰی، جلد:1، صفحہ:251۔
2 ...السیرۃالحلبیۃ،باب بنیان قریش الکعبۃ شرفھااللہ تعالٰی، جلد:1، صفحہ:251۔

آخرئ حصه کښې داخل شي نو د الله، الله کولو دپاره کعبې شريفې ته د تللو کوشش کوي❀هغه انبيائے کرام عليهم السّلام د کومو په قومونو چې عذاب راغلے وو، هغوئي عَلَيهِمُ السَّلَام به د خپل قوم د تباه کيدلو نه پس عام طور هُم دلته تشريف راوړلو او د آخري پورې به دلته تشريف فرما اوسيدل ❀د هر ځائے نه مسلمانان د لـمانځه دپاره هُم دې ته مخ کوي❀هم دغسې يو مسلمان که هر ځائے کښې وفات شي په قبر کښې د هغه مخ قبلے طرف ته کوي لهٰذا معلوم معلومه شوه چې کعبه شريفه مرجَعِ خَلائق (يعنی عظيمه زيارت ګاه او د خلقو د ورګرځيدلو مقام ) دے[1]

## اُوښ طواف اوکړو

عُلَمائے کرام فرمائي: د کعبے شريفې د خصوصياتو نه يو خصوصيت دا هُم دے چې کعبه شريفه د کله نه جوړه کړے شوې ده، د هٰغه وخت نه واخله تر اوسه پورې د طواف کوونڪو نه نه ده خالي شوې، هر وخت انسانان، پيريان يا فرښتے (څوک نه څوک) لګيا وي د دې طواف کوي.[2] تر دې چې د حضرت عبد الله بن زُبير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په دورِ خِلافت کښې کله حجّاج بِن يوسُف په کعبه شريفه حمله اوکړه، په عين حرمِ پاک کښې د طواف په ځائے کښې ګټې اورولے شوې، خلق د خپل ځان بچ کولو په فکر کښې وو، يو انسان په طواف کولو نه ښکاريدو خو د خُدائے قُدُّوس شان اوګورئ! هٰغه وخت هُم يو اُوښ په مستانه انداز کښې د خانه کعبے په طواف کښې مصروفه وو[3]

---

1… تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:125، جلد:1، صفحہ:708 بتغیر قلیل۔

2… شفاء الغرام باخبار البلد الحرام، الباب الثالث عشر، جلد:1، صفحہ:354۔

3… روض الانف، حدیث بنیان الکعبۃ وحکم رسول اللہ… جلد:1، صفحہ:371۔

## فرښتے هُم د کعبے شريفې طواف کوي

په رواياتو کښې دي: کوم ځائے چې زمونږ کعبه شريفه ده، د هغې بالکل په سمې کښې په آسمان باندې د فرښتو قبله ده، هغې ته **بَيْتُ الْمَعْمُوْر** وائي، هلته د فرښتو ډله وي او په يوه ورځ کښې اويا زره فرښتے هلته لـمونځ کوي، چې کومې [هلته] يو ځل لـمونځ اوکړې، بيا ئې کله هُم وار نه راځي. (1) بيا چې کله ماښام شي نو دا اويا زره فرښتے زمکې ته راشي او د کعبے شريفې طواف کوي. (2)

## په بارګاهِ اِلٰهی کښې د کعبے شريفې فرياد

منقول دي چې يو ځل حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د خپل لښکر سره په هوا کښې روان وو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د کعبے معظمې په خوا تيريدلو خو په څه وجه هغوئي دلته حصار نه شولو او مخکښې ئې تشريف يوړلو، دا معامَله ئې چې اوليدله نو کعبه شريفه په ژړا شوه او په بارګاهِ اِلٰهی کښې ئې عرض اوکړو چې: يا **الله** پاکه ستا د نبيانو نه د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام لښکر په دې ځائے تير شو او ما له ئې تشريف رانوړلو په دې باندې **الله** پاک ارشاد اوفرمائيلو: اے کعبے! مه ژاړه!! زه به ستا حج په خلقو باندې فرض کړم نو هغوئي به ستا طرف ته داسې راروان وي لکه څنګه چې مرغئ د خپلو جالو په لور رواني وي، هغوئي به ستا په لور داسې په ژړا رامنډې وهي لکه څنګه چې اوښه د خپل بچي په شوق کښې منډې وهي، اے کعبے! زه به په تا (يعنې ستا په ښار) کښې نبيِّ آخرُ الزَّمان (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پيدا کووم، کوم چې ما ته د ټولو انبياؤ (عَلَيْهِمُ

---

1...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَفِي التَّشَبُّه، ومنها: الامامة، جلد: 1، صفحه: 248۔
2...حُسْنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَفِي التَّشَبُّه، ومنها: قصد البيت الحرام بالحج...الخ، جلد: 1، صفحه: 361۔

السَّلَام ) نه ډېر ګران دے [1]

## د محشر په میدان کښې د لَبَّیک اَللّٰھُمَّ لَبَّیک آوازونه

حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تورات شريف (کوم چې آسماني کتاب دے، په حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازل شو، په دې کتاب) کښې ليکلي دي: الله پاک به د قيامت په ورځ خپلو 7 لاکهه مُقَرَّبو فرښتو ته د سرو زرو زنځيرونه عطا کوي او حکم به ورته کوي چې کعبه شريفه په دې زنځيرونو کښې [تړلې] د حشر ميدان ته راولئ! فرښتے به لاړې شي، د سرو زرو په هغه زنځيرونو به کعبه شريفه اوتړي، بيا به يوه فرښته آواز کوي: اے کعبے! روانه شه!! کعبه شريفه به وائي: زه به نه ځم تر څو پورې چې زما سوال پوره نه شي د آسمان له طرفه به يوه فرښته آواز کوي: اے کعبے! سوال کوه ستا سوال به پوره کړے شي. نو کعبه شريفه به د الله پاک په بارګاه کښې عرض کوي: اے الله پاکه! زما په ګاونډ کښې د دفن شوو مومنانو په حق کښې زما شفاعت قبول کړه. آواز به راشي: ما ستا درخواست قبول کړو (يعنې ستا په ګاونډ کښې چې کوم مومنان دفن دي د هغه ټولو په حق کښې ستا شفاعت قبول کړے شو) کومو مسلمانانو ته چې په مکه مکرمه کښې د دفن کيدو سعادت حاصل شوے وي، هغوئي به راجمع کړے شي، د هغوئي مخونه به سپين ځليږي، هغه ټول به د اِحرام په حالت کښې د کعبے نه ګير چاپيره راجمع شي او د هغه ټولو په خُله باندې به هم دا يوه کلمه وي: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ (زه حاضر يم يا الله! زه حاضر يم)

بيا به فرښتے کعبے شريفې ته وائي: اے کعبے! اوس روانه شه!! اوس خو ستا

1... تفسیرِ بغوی، پارہ:19، سورۂ نمل، زیرِ آیت:18، جلد:3، صفحہ:390 ملتقطاً۔

سوال پوره شوے دے کعبه شریفه به وائي: زه به نه ځم تر څو پورې چې زما درخواست قبول نه شي د آسمان نه به یوه فرښته آواز اوکړي: اے کعبے! تهٔ اوغواړه تا ته به عطا کړے شي کعبه شریفه به وائي: اے الله پاکه! ستا ګنهګار بندګان کوم چې د لرې لرې نه په دوړو خړ زما خوا له راغلي وو، هغوئي خپل کور والا، بال بچ، خپل خپلوان پریښودل او ستا په حکم باندې ئې عمل اوکړو او زما د زیارت په شوق کښې راغلي وو او حج ئې کړے وو، اے کریم رَبَّه! زه تا ته سوال کووم چې د هغه حاجیانو په حق کښې زما شفاعت قبول کړه، هغوئي ته د قیامت د ویرې نه امن عطا کړه او هغوئي زما ګیر چاپیره راجمع کړه الله پاک به اوفرمائي: اے کعبے! ما د هغوئي په حق کښې هم ستا شفاعت قبول کړو بیا به فرښته اعلان کوي: چا چې د کعبے زیارت کړے وو، هغه د نورو خلقو نه بیل شئ دا اعلان چې واوري نو په محشر والؤ کښې به هغه ټول خلق کومو چې د کعبے زیارت کړے وي، کومو چې د حج یا د عمرے سعادت حاصل کړے وي، هغه ټول به بیل شي او د کعبے نه به ګیر چاپیره جمع شي، د هغوئي مخونه به سپین وي او د دوزخ نه بے ویرې به د کعبے شریفې طواف کوي او د هغوئي په خُله باندې به هم دا کلمه وي: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ (زه حاضر یم یا الله! زه حاضر یم) بیا به فرښته آواز کوي: اے کعبے! اوس خو ستا سوال پوره شو اوس خو روانه شه! بیا به کعبه شریفه هم تَلبِیَه لولي، (یعنې کعبه شریفه به هم وائي: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ زه حاضر یم یا الله! زه حاضر یم)، بیا به کعبه شریفه په دې شان سره د حشر میدان ته راروانه کړے شي چې په دنیا کښې زیارت کوونکي به ترینه ګیر چاپیره طواف کوي او د هغوئي ټولو په خُلو باندې به دا کلمات وي: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ (زه حاضر یم یا الله! زه حاضر یم) (1)

---

1...الروض الفائق، صفحه:48۔

| | |
|---|---|
| حج کا شَرَف ہو پھر عطا یارَبِّ مصطفٰے! | میٹھا مدینہ پھر دِکھا یارَبِّ مصطفٰے |
| دیدے طوافِ خانۂ کعبہ کا پھر شَرَف | فرما یہ پورا مُدّعا یا ربِّ مصطفٰے! [1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کعبے شریفې يو خصوصيت طواف

خوږو او مُحترمو اسلامي ورو نـو! د کعبے شریفې يو خصوصيت دا هُم دے چې په دنيا کښې دا ھغه واحد مقام دے د کوم چې طواف کیږي. الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾ (پاره:17، سورۂ حج:29) | | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او د دې آزاد کور طواف اوکړئ. |

## طواف څنګه شروع شو؟

منقول دي چې يو ځل حضرت امام زين العابدين رضی اللہ عنہ طواف کولو چې يو کس د هغوئي نه پوښتنه اوکړه خو امام زين العابدين رضی اللہ عنہ هغه ته هيڅ توجُّه اونـکړه، تر دې چې هغوئي د طواف 7 چکرې پوره کړې، بيا هغوئي رضی اللہ عنہ حطيم ته تشريف راوړلو او د ميزابِ رحمت لاندې اودريدلو او 2 رکعته لـمونځ ئې ادا کړو، بيا سيدها کښيناستلو او اوئې فرمائيل: هغه پوښتنه کوونکے چرته دے؟ هغه کَس حاضر کړے شو، امام زين العابدين رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: څه پوښتنه دې کوله؟ عرض ئې اوکړو: عالي جاه!! د کعبے شريفې طواف تر کله نه

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:129 ملتقطًا۔

شروع شوے دے؟ طواف ولې شروع شو؟ او څنګه به کيدلو؟ امام زين العابدين رضی اللہ عنہ د هغه کس نه پوښتنه اوکړه: د کوم ځائے اوسيدونکے ئې؟ هغه اُووئيل: د شام اوسيدونکے يم. اوئې فرمائيل: په شام کښې د کوم ځائے ئې؟ عرض ئې اوکړو: بيت المقدس ته نزدې. امام زين العابدين رضی اللہ عنہ ترينه بيا پوښتنه اوکړه: آيا تا تورات او انجيل لوستلي دي؟ هغه عرض اوکړو: آو جي! لوستلي مې دي بيا امام زين العابدين رضی اللہ عنہ د هغه د پوښتنې جواب ورکړو او اوئې فرمائيل: اے شامي! زما جواب ياد کړه! تهٔ به زما نه نهٔ روايت کوې خو صرف حق خبره، د کعبے شريفې طواف داسې شروع شو چې کله الله پاک فرښتو ته اوفرمائيل چې زه په زمکه کښې خپل خليفه (يعني حضرت آدم علیہ السلام) جوړولو والا يم، هُغه وخت فرښتو داسې ظاهره کړه چې مونږه د خلافت زيات حق دار يُو، په دې باندې الله پاک ارشاد اوفرمائيلو:

| | |
|---|---|
| قَالَ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:30) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: [الله] اوفرمائيل: بيشکه ماته هغه معلوم دي څه چې تاسو ته نه دي معلوم. |

د الله پاک دا ارشاد چې ئې واوريدو نو فرښتو ته داسې ښکاره شوه چې شايد زمونږه په خبره باندې الله پاک زمونږ نه ناراضه دے، نو فرښتو د الله پاک د عرش پناه واخسته، خپل مخونه ئې پورته کړل، عاجزي ئې اوکړه، اوئې ژړل او تر 7 کالو پورې ئې د الله د عرش طواف کولو، آخر الله پاک هغوئې ته د رحمت نظر اوکړو او د عرش د لاندې ئې د هغوئې د پاره د څلورو ستَنو والا، د زَبَرجَدو يو کور جوړ کړو او فرښتو ته ئې اوفرمائيل: د دې کور طواف کوئ، چنانچه فرښتو د هُغه کور طواف شروع کړو، هغې ته بيتُ



www.dawateislami.net

الــمعمُور وئيلے شي بيا الله پاک څه فرښتے زمکې ته را اوليږلې او حکم ئې اوکړو چې په زمکه باندې د بيتُ الــمعمُور په شان او هم دغه همره  کور جوړ کړئ بيا چې کله دا کور جوړ شو نو الله پاک د زمکې مخلوق ته حکم اوکړو: لکه څنګه چې آسمان والا د بيتُ الــمعمُور طواف کوي، تاسو د دې کور طواف کوئ!! (1)

د يو روايت مطابق د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام  د پيدا کيدو نه 2 زره کاله مخکښې، د بيتُ الــمعمُور بالکل په سَمې کښې فرښتو د کعبے شريفې عمارت جوړ کړو، دا په پيمائش کښې د بيتُ الــمعمُور برابره وه، هغه وخت خو به د کعبے شريفې طواف صرف د زمکې فرښتو کولو خو د دې حج به د زمکې او آسمان ټولو فرښتو کولو (2)

## د طواف په فضائلو يو څو حديثونه

(1) حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه واوريدل: چا چې په شميرلو سره د طواف 7 چکرې اولګولې او بيا ئې دوه رکعتونه ادا کړل نو دا د يو غلام آزادولو برابر دي او د طواف کولو په وخت د انسان د هر قدم په بدله کښې د هغه د پاره 10 نيکئ ليکلے کيږي او د هغه 10 ګناهونه ورانولے کيږي او 10 درجے ئې اوچتولے کيږي (3)

(2) مکي مدني سرکار، د دواړو جهانونو مالک او مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

---

[1]... اخبارِ مکه للازرقی، ذکر بناء الملائکة الکعبة، جز:1، صفحه:27-29۔

[2]... تفسیر خازن، پاره:4، آلِ عمران، زیر آیت:96، جلد:1، صفحه:271۔

[3]... مسندِ امام احمد، جلد:3، صفحه:7، حدیث:4555۔

ځوک چې د بيت الله د طواف 7 چکرې اولګوي او په هغې کښې څه لَغو (يعنې بيهوده) خبره اونکړي نو دا د يو غلام آزادولو برابر دي [1]

(3) د حضرت عبد الله ابنِ عباس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د مدينے سلطان، رحمتِ عالميان صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: چا چې 50 ځله طواف اوکړو د ګناهونو نه داسې اووتو لکه چې نن د خپلې مور نه پيدا شو. [2]

(4) په حديثِ پاک کښې دي: چا چې په باران کښې د طواف 7 چکرې اولګولې د هغه تير ګناهونه اُوبخښلے شي [3]

## کله چې مونږ په باران کښې طواف اوکړو نو

حضرت ابو عِقال رضی اللہ عنہ فرمائي چې يو ځل ما په باران کښې د حضرت اَنَس بن مالِک رضی اللہ عنہ سره د بيت الله شريف طواف اوکړو کله چې مونږ د طواف کولو نه پس **مقامِ ابراهيم** ته حاضر شو او 2 رکعتونه مو ادا کړل نو حضرت اَنَس رضی اللہ عنہ مونږ ته اوفرمائيل چې **د نوي سر نه عمل شروع کړئ ځکه چې ستاسو بخښنه شوې ده** بيا ئې اوفرمائيل چې کله مونږ د حضورِ پاک، صاحبِ لولاک صلی اللہ علیہ والہ وسلم سره په باران کښې طواف کړے وو نو هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم مونږ ته هم داسې فرمائيلي وو. [4]

## د حج شوق لرونکي کار اوشو

امام ابن جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهفرمائي: يو عاشقِ رسول وو، د هغه حج ته د تللو ډير

---

1... معجمِ کبیر، جلد:9، صفحہ:82، حدیث:17233۔
2... ترمذی، کتاب الحج، باب ماجاء فی فضل الطواف، صفحہ:234، حدیث:866۔
3... قُوْتُ الْقلوب، جلد:2، صفحہ:198۔
4... ابنِ ماجہ، کتاب المناسک، باب الطواف فی مطر، صفحہ:508، حدیث:3118۔

شوق وو، د 3 کالو پورې مسلسل هغه د حج د پاره دعاګانې کولې، په ژړا فریاد به ئې د **رَبّ** تعالیٰ په بارګاه کښې عرض کولو:

| | |
|---|---|
| بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آ ئیگا کب یا الٰہی! |
| مَیں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یا الٰہی! (1) |

مسلسل ئې 3 کاله دعاګانې کولې خو د زړه ارمان ئې پوره نه شو، څلورم کال د حج ورځې وې، په زړه کښې ئې حرمین شریفین ته د رسیدو او د کعبے شریفې د زیارت شوق زیات شو، هغه په ژړا ژړا د الله کریم په بارګاه کښې دعاګانې اوکړې، نو دا ځل په هغه باندې کرم اوشو، دغه شان یوه شپه چې کله هغه اوده شو نو اوده بخت ئې رابیدار شو، چې سترګې ئې ورغلې نو د زړه سترګې ئې برسیره شوې، وران کارونه سموونکې آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ، د یو عاشقِ رسول د زړه ارمان پوره کولو د پاره د هغه په خوب کښې تشریف راوړو.

| | |
|---|---|
| اُمّت کے حال سے وہ آگاہ ہر گھڑی ہیں | خوابوں میں آرہے ہیں، بِگڑی بنا رہے ہیں |

رسولِ رحمت، شفیعِ اُمّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل عاشق ته اوفرمائیل: ته دا کال حج له لاړ شه.

د رسولِ اکرم ،نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ژبې مبارکې نه د حج زیرې اوریدو سره هغه عاشقِ رسول د خوب نه رابیدار شو د بارګاهِ نبوت نه د حج اجازت میلاو شوے وو، د هغه زړه د خوشحالئ نه په ټوپونو وو، د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ خوږ آواز مبارک د هغه په غوږونو کښې تاویدلو، هغه ډیر خوشحاله

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:107۔

وو، خو ناڅاپه ورياد شو چې د حج اجازت خو ميلاو شو خو ما سره خو دومره اسباب نشته چې حج له لاړ شم، چې څنګه ئې په زړه کښې دا خيال راغلے، ټوله خوشحالي ئې په غم کښې بدله شوه.

بله شپه شوه، بيا رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو، بيا ئې ارشاد اوفرمائيلو: ته دا کال حج له لاړ شه.

هغه عاشقِ رسول بيا د خپلې بے وسئ ذکر اونکړے شو، دريمه شپه پرې بيا کرم اوشو، بيا د الله رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: ته دا کال حج له لاړ شه، هغه دا ځل هم خپله پريشاني بيان نکړے شوه، آخر په څلورمه شپه پرې بيا کرم اوشو، دا ځل چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو نو هغه عاشق عرض اوکړو چې يَا رسولَ الله، يَا حَبِيبَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما سره خو زادِ راه [يعنې د لارې خرچه او سامان] هم نشته زه څنګه حج له تلے شم؟

پاس مال وزر نہیں اُڑنے کو بھی پَر نہیں | کردو کوئی انتظام تم پہ کروڑوں سلام

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ولې نه؟ تا سره د لارې خرچه شته، ته د خپل کور فلانکے ځائے را اوکنه، هلته به ستا د نيکه زغره موجوده وي، دومره ئې اوفرمائيل او د ټولو نبيانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشريف يوړلو. سحر چې کله د هغه عاشقِ رسول سترګې اوغړيدلې نو ډير خوشحاله وو، د سحر لمونځ نه پس ئې د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښودلے شوے ځائے کنستل شروع کړ، واقعي هلته

يوه قيمتي زغره موجوده وه، هغه، هغه زغره خرڅه کړه او حج له روان شو[(1)]

| | |
|---|---|
| جسے چاہا در پہ بُلا لیا | جسے چاہا اپنا بنا لیا |
| یہ بڑے کرم کے ہیں فیصلے | یہ بڑے نصیب کی بات ہے |

## د حج شوق څنګه زيات کړے شي؟

اے عاشقانِ رَسُول! معلومه شوه! چې د حج د پاره د مال او اسباب نه بلکه د شوق او ذوق ضرورت دے، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه په خپل زړه کښې د حج شوق زيات کړو ❀ د حج فضيلتونه لولئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په زړه کښې به مو د حج شوق زيات شي ❀ کاش چې مونږه خپل دا معمول جوړ کړو چې د شپې څه وخت په تنهائيئ کښې کښينو کله د کعبے شريفې تصور راولو ❀ کله د مِنیٰ شريف سوچ راولو ❀ په سوچ سوچ کښې کله ميدانِ عرفات ته اورسو ❀ کله د لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ آواز اولګوو ❀ کله په تصوّر کښې د صفا او مروه سعي کوو!!! بيا خپله محرومي په تصوّر کښې راولو او د **الله** کريم په بارګاه کښې په زارئ او فرياد سره دعاګانې اوکړو چې: يا الله! ما له د حج سعادت راکړې، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د حج شوق به مو پيدا شي، که د سترګو نه مو اوښکې رواني شي نو د الله پاک د رحمت نه ډير اُميد دے چې کرم به اوشي، په زړه کښې به مو د حج شوق هم زيات شي او که چرې الله پاک ته منظوره وه نو د حج بلنه به مو هم نصيب شي

د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير ښکلي 3 کتابونه دي: **عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، رَفِيْقُ الْحَرَمَيْن او رَفِيْقُ الْمُعْتَمِرِيْن** دا کتابونه اولولئ، دا په زړه کښې د حج د شوق زياتولو ډيره

---

1… عیون الحکایات، جلد:2، صفحہ:223۔

زبردسته نُسخه ده د خپل مور پلار او مرحومانو د ايصال ثواب د پاره او د خپل قبر او د آخرت بهتر جوړولو د پاره ئې حج او عمرے له تلونکو ته د تحفے په طور وړاندې کړئ، حج او عمره کوونکي چې دا کتابونه اولولي نو په ښه انداز کښې به حج او عمره ادا کړے شي نو دغسې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! مونږ ته هُم د دې برکتونه ميلاو شي، څه پته چې د دې نيک عمل په برکت مونږ ته هم د مدينے منورې او د مکّے مکرمې بلنه راشي.

جان و دِل ہوش و خرد سب تو مدینے پہنچے | تم نہیں چلتے رضا سارا تو سامان گیا

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د لـمانځه د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مکّے مدينے د عشق موندلو، د نيک لـمونځ ګزاره جوړيدلو او د نيکو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره وابسته اوسئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په ژوند کښې به مو د نيکو سپرلے راشي، د الله پاک د رضا والا کارونو موقعې به هُم درنصيب شي.

## د مدينے د سفر سعادت ميلاو شو!

د پنجاب د علاقے اِلٰہ آباد (ضلع قصور) د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق خو لرلو خو د ديني کارونو په باره کښې د سستئ ښکار ووم، يوه ورځ يو ذمه وار اسلامي ورور زه پوهه کړم او د ديني کار کولو او خاص طور د **سحر د لـمونځ د پاره د مسلمانانو د راپاڅولو** د ديني کار ئې په پوره پابندئ سره د کولو ترغيب راکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما هم د بَلې ورځ نه په دې باندې عمل شروع کړو. د سحر د لـمونځ د پاره مې مسلمانان راپاڅول

څه شروع کړل چې د الله پاک او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم راباندې اوشو، بخت مې څه داسې رابيدار شو چې هم په دې کال زما د مدينے د حاضرئ سعادت نصيب شو، په دې باندې نور کرم دا هم اوشو چې زما د مشر ورور هم د حج سعادت نصيب شو

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول |
| سنور جائے گی آخرت اِنْ شَآءَ الله! | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حج او عمرے موبائل ايپلي کيشن تعارُف

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجئ (***Latest Technology***) په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په دې کښې يو ايپلي کيشن : ***hajj & umrah*** (حج او عمره) هم دے.

د دې ايپلي کيشن په مرسته تاسو د حج او عمرے د لندې طريقے او ❀ د حج او عمرے د ضروري مسائلو وغيره معلومات حاصلولے شئ ❀ د دې نه علاوه په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د حج او عمرے دعاګانې او ❀ د حرمين شريفين د مُقَدَّسو ځايونو معلومات وغيره هم شامل دي ❀ د دې موبائل ايپلي کيشن يو ډير اهم خاصيت دا دے چې په دې کښې د تهري ډي ويډيوز (***3D Videos***) په ذريعه د حج او عمرے

عملي طريقه هم ښودلے شوې ده دا موبائل ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون ( **Smart Phone**) کښې انستال کړئ، د دې نه ټخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د بعضو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## په خلقو کښې روغه کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د خلقو په مينځ کښې روغه کوي الله پاک به د هغه معامله صحيح کړي، او هغه له به په هره کلمه [په هر لفظ] وئيلو د يو غُلام آزادولو ثواب عطا کوي، او چې کله را واپس کيږي نو د خپلو تيرو ګناهونو نه به بخښلے شوے را واپس کيږي (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د مسلمانانو ورونړو په خپل مينځ کښې **روغه کول** د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، چې کله به د صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان په

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2...الترغیب والترہیب، کتاب الادب، باب فی اصلاح بین الناس، صفحہ:893، حدیث:9۔

مينځ کښې څه غلط فهمي پيدا شوه يا به کله 2 صحابهٔ کرام د يو بَل نه خفه شول نو زمونږه آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په حکمتِ عملئ سره د هغه دوارو په مينځ کښې روغه کوله، هم دارنګ يو ځل د غير مسلمو په سازش سره د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د 2 لويو قبيلو اَوس او خزرج ترمينځه څه کشاله راغلې ته شوه، کله چې سرکارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دې پته اولګيده نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او د هغوئي په مينځ کښې ئې روغه اوکړه، هم دغه شان د خوږ آقا، سردارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روغې کولو ډيرې واقعے دي، د کومو تفصيلي ذِکر چې د سيرت په کتابونو مثلاً ❀ سيرتِ مصطفٰے او ❀ سيرتِ رسولِ عربي وغيره کښې لوستلے شئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د روغې کولو په لحاظ سره دا ياد ساتئ چې د مسلمانانو ترمينځه هُغه روغه جائز ده کومه چې د شريعت په کرښه کښې وي، مَدَني مصطفٰے ، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مسلمانانو ترمينځه روغه کول جائز دي خو هُغه روغه (کول جائز نه دي) کومه چې حرام حلال کړي يا حلال حرام کړي [1]

د روغې کولو په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمدينه رساله **صلح کروانے کے فضائل** اولولئ.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د **بهارِ**

---

1... ابو داوٗد، کتاب الاقضية، باب فی الصلح، صفحه:570، حديث:3594۔

**شريعت** جلد 3 نه شپاړسمه حصه او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو كتاب **550 سنّتين اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده كولو يوه ذريعه د دعوتِ اِسلامي مدنى قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر هم دے.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راعطا كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلى الله عليه واله وسلم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلِي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلى الله عليه واله وسلم ديدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلى الله عليه واله وسلم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّى الله عليه وآله وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې په شريكه ئې

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2 ... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

3 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠



www.dawateislami.net

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵